**د افغان سمون ټولنې مطبوعاتی اعلامیه**

**د افغانستان د اسلامي جمهوريت د ولسمشر جلالتماب محمد اشرف غني د ورستي وينا په اړه د افغان سمون د ټولنې غبرګون**

نېټه : ۱۳۹۵/۲/۱۱ - 2016/4/30

د افغان سمون ټولنه په هېواد کې د رواني تېل شوې جګړې، سولې او دښمن د تعريفولو او دهغوي پر ضد د پوځي اقدام په اړه د ملي شورا ګډې غونډې ته د ولسمشر محمد اشرف غني د وينا ننګه او ملاتړ کوي.

زموږ ټولنه د هېواد د روان وضعيت له هر اړخيزې څېړنې ورسته د ولسمشر د ورستي موقف د ملاتړ تر څنګ په ټولو سياسي ډلو او ګوندونو، اثر لرونکو شخصيتونو او مشرانو غږ کوي چې خپلې سليقه يې، سمتي، سيمه ايزې او شخصي غوښتنې يوې خواته پرې دي او له خپل مرکزي دولت سره د تېل شوې جګړې، سولې او ثبات ټينګولو او د هېواد د دشمن پر وړاندې د مبارزې په چارو کې ملګرتيا وکړي .

له بده مرغه موږ وينو چې دهېواد له دغو ترينګلو حالاتو په نظام کې دننه يو شمير سياسي ډلې او اشخاص غواړي ناوړه ګټه پورته کړی او له ولسمشر شخصي او غير مشروع امتيازات ترلاسه کړي، دوي په نندارېزو غبرګنو سره داسې ښکاره کوي چې ګواکې دوي په قدرت کې نه وي دهېواد حالت به نور هم د کړکېچ خوا ته ولاړ شي.

د نظام دننه دښمنان د بيان د آزادئ او دموکراسئ نه په ناوړه ګټه پورته کولو سره پر نظام باندې غير اصلاحي نيوکې کوي داسې نظام ضد تبليغات کوي چې اثر يې پر ټولنه د وسلوالو دښمنانو له جګړې هم ناوړه دی. د افغان سمون ټولنه د بيان د آزادئ او دموکراسۍ اصولوته پوره درناوی لري خو دغه اصول بايد د قانون په چوکاټ کې د استعمال وړتيا ولري نه دا چې زموږ ملي ګټو او دهېواد ثبات ته ترې تاون ورسېږي نو اړين بولي چې له دغسې دښمنانو سره هم قانوني چلند وکړای شي چې د لستوڼو د مارانو حيثيت لري.

د افغان سمون ټولنه د پرديو د لاس پوڅو، جاسوسانو، ترهګرو، داړمارانو او د بشريت د قاتلانو له مجازاتو سره موافقه ده خو د عدالت د پلې کولو په چارو کې د پوره روڼتيا غوښتنه کوي. ټولنه بايد ډاډه اوسي چې حق حقدار ته رسي نه دا چې يو شمير وګړي د سياسي او تعصبي کړنو ښکار شي چې داسې تيروتنې کله هم بېرته د جبران وړ نه وي.

سمون غوښتنه کوی چې د اباسين د ښنتونې او وژنې قضيه دې په جدي ډول تعقيب او عاملين يې دې مجازات شي او امنيتي ځواکونه بايد د دغه ډول پلان شوو او جنايي جرمونو پر وړاندې مبارزه وکړي. ۱٤ کلن اباسين څو مياشتې مخکې د کابل له اتمې حوزې د پيسو لپاره ښتول شوی و، خو چې کورنۍ يې پيسې ورنه کړې، نو د ښنتوونکو له خوا ووژل شو.

سوله د ټولنې اړتيا ده، زموږ ټولنه په دې باور ده چې که دولت د ولس په مرسته د سولې چاره پرمخ بوزي پايله به يې واقعي سولې او ثبات ته رسېدل وي . د سولې پروسه هم بايد د يوشمير اشخاصو لپاره د مقام موندولو وسيله ونه ګرځي نو اړينه دهه چې د سولې د شورا په تشکيل ، چارو اوصلاحيتونو له سره غور وشي.

په هېواد کې د سولې ،ثبات او سوکالۍ په هيله.